# د مى اوله نيټه

د مى اوله نيټه د کارګرانو نړيواله ورځ ده.دا  ورځ دواړه د مبارزې ورځ او دجشن ورځ ده چيرې چې کارګران لاريون کوي او مهمې مسلې څرګندوي او د کارګر غورځنګ ارزښتونه روښانه کوي .










*Berlin. Foto: Sergey Kohl, Shutterstock* *London. Foto: Londisland, Shutterstock* *Berlin. Sergey Kohl, Shutterstock*

هرکال تقريباً د اوسنى نړى اکثريت برخه او هيوادونه د ځانګړو پروګرامونو سره د دې ورځې لمانځنه او لاريون کوي. په زياتره هيوادونو کې دغه ورځ عامه رسمي رخصتي ګڼل کيږي. ددې ورځې ترشا، د حقونو لپاره اوږده مبارزه ده چې موږ يې نن ورځ په پام کې نيسو .

## د دمى اوليه نيټه تاريخچه

د 1800 ميلادي کال کې د صنعتي انقلاب د يوې برخې په توګه ، په ډيرى هيوادونو کې ډيرى فابريکې وده کړې. توکي په لوى مقدار کې توليد شوي. خلک ښارونو ته تللي ترڅو په فابريکو کې کار وکړي. يوکاري ورځ له معمولى ورځ په پرتله چې کارګران عادت درلوده ډير اوږد وو، او په ډيرى ځايونو کې د کار شرايط خورا ښه نه و. ورو ورو کارګران د خپلو حقونو له پاره غږ پورته کوي او دمبارزې لپاره ځانونه د کارګرانو اتحاديو کې تنظيموي.






*New York 1912. Foto: Everett Historical, Shutterstock* *Kilde:Flickr*

په 1889 ميلادي کال کې په پاريس کې د کارګرانو نړيوالې غونډې کې، پريکړه وشوه چې  د کار ساعت (٨) ساعتونو ته راټيټ شي. همدارنګه پريکړه وشوه چې د مى اوله نيټه بايد د کارګرانو ورځ وي. دا  د کارګرانو غورځنګ پورې اړه لري چې په هر هيواد کې د کارګر ورځ څنګه ولمانځل شي .

## په ناروې کې د مې اوله نیټه

په 1890میلادی کال کې، د لومړي ځل لپاره، په ناروې کې د کارګرانو غورځنګ د مې اوله نیټه د خپل د مبارزې نړیوالي ورځ او دجشن ورځ په توګه ومانه. دغه ورځ په څو ښارونو کې ولمانځل شوه، او په پلازمینه کې چې پدغه وخت کې کریستیانیا نومیده، لاریون تنظیم شوي وو. ډیری خلک په لاریون کې برخه اخیستې وه او د مبارزې ترټولو مهمه مسله د کار ساعت (۸) ساعتونو ته ښکته کول وو. د لاریون کونکو په پوسټرونو کې لیکل شوی و : "8 ساعته کار ، 8 ساعته ازادي او 8 ساعته استراحت".

د ډیری کلونو لپاره، د کار ساعت (۸) ساعتونو ته را ښکته کول وو. وروسته ،د کارګر غورځنګ د کارد هر ساعت شرایط غوښتني او نظریات څرګند کړل.

## 1.mai-tog







*Kilde: Wikimedia*

سیاسي ګوندونه او ځیني سازمانونه د ځانګړو پروګرامونو سره د دې ورځې لمانځنه کوي. د مې اوله نیټه د کارګرانو د یووالی نړیواله ورځ ،سهار وختي د غونډو او اکثرا ګډ ناري سره پیل کیږي. بیا دلته د مې اولې نیټې په اړه خبری کیږي. هغه څوک چي د مې اوله نیټه کتار کي برخه اخلي بیرغ لري چې ښیي کومي اتحادیي پورې تړاو لري. په کتار کي د بیرغ سربیره ، پوسټرونه او شعارونه شتون لري چي په ټولنه کي اوسني مسلې منعکس کوي. موزیک - بانډ او سندره هم تل د مې په اوله نیټه مهمه وه.

1. mai norsk pashto

## د پیوستون نړیواله ورځ

په ناروې کې د کارګر غورځنګ او په ټوله نړۍ کې د کارګرانو لپاره، د می اوله نیټه خورا مهمه د کلیزې لمانځلو ورځ او له سیاسي پلوه خورا مهمه ورځ ده. له هماغه لومړۍ شیبې څخه ، د می اوله نیټه د لمانځلو نړیواله ورځ, د مبارزې ورځ او د کارګر غورځنګ د پیاوړتیا او یووالي سمبول و.دا ورځ اکثرا د یووالي پیژندلواو مبارزې په اړه خبرې کېدل. او نن یی ټوله نړۍ د کارګرو د یوالي نړیوالې ورځې په نوم پیژني او یادونه یې کوي.







*Kilde: Flickr*




*Kilde: Flickr*




*Førrstemaiplakat på arabisk. Kilde: abu_zeina, Shutterstock*